# A research review of the work done on the vocabulary of the Bannu regional Karlani dialect

# د بنو د سیمه ایزې کرلاڼي لهجې د لغوي پانګې په اړه د شوي کار تحقیقي جائزه

**Inam Ullah Khan***

**Dr. Noor Muhammad Danish Bettani♣**

**ABSTRACT:**

Language is a social، Acquisitive and Cultural phenomenon, which is why it undergoes various changes over time. Along with other grammatical changes, these changes also occur in the vocabulary. Because with the passage of time, some old words become obsolete and some new words appear. The only way to save obsolete words is a dictionary. Banu, which is the ancient homeland of various Pashton Karlani tribes, has many special words that have not yet been properly preserved, especially in the pattern of professional dictionaries and Encyclopedias like Britannica, Oxford Dictionary, Ferozulghat, Daryaab and others. On the other hand, in linguistics protecting the vocabulary of regional dialects is a useful practice. In this research paper, a research review has been taken of those dictionaries/ Literary material that have the vocabulary of the Banuu regional Karlani dialect.

**Key words**: Natural phenomenon, Grammatical changes, Vocabulary, Obsolete words, Regional dialects.

## (۱) بنوڼ نامه متلونه و مثالونه :

دا د پروفېسر ريټائرډ شمشېر علي خان کتاب دی چې په نومبر ۲۰۰۸ کښې د Zads-T ګرافيکس پېښور لهٔ خوا چاپ شوی دی- د چاپ شمېره ئې ۵ سوه او ټول ۱۹۰ مخونه لري. په دې کتاب کښې (۳۹۴) متلونه، (۲۰) محاورې، (۳۳) روزمرې، (۱۱) ښېرې، (۵) نصيحت آموزی خبرې او (۲۹) د نوم ګټلو او نوم بائيللو لنډه تذکره هم شامله ده. د اولسي ادب ذکر شوي صنفونه ئې زياتره په بنوڅواله لهجه کښې ليکلي دي او ورسره ئې په اردو ژبه کښې ژباړه او لغات هم ورکړي دي او شاليد ته ئې

---

* Ph.D Scholar, Pashto Academy University of Peshawar

♣ Pashto Academy University of Peshawar

د پرېوتو هڅه کړې ده. د دې کتاب په شروع کښې پروفېسر خان محمد وائي چې : "ان کی موجودہ کتاب اگرچہ بنوں کی مقامی ضرب الامثال پر مشتمل ہے"(1).

خود دې خبرې تر څه حده ځواب ممتاز علي خان ممتاز په دې ټکو کښې کړی دی-

"پروفېسر شمشېر علي خان په خپل کتاب بنو نامه کښې هغه متلونه، مثالونه راغونډ کړل چې په سوئېلي ضلعو کښې، بنوں خوا او شا سېمو کښې د خلقو په ژبه دي، مروج دي او امروزه ژوند کښې استعمالېږي"(2).

خو زۀ به د دې نه هم وړاندې لاړ شم او دا به ووائم چې په بنو نامه کښې د اولسي ادب ذکر شوي صنفونه نۀ يواځې دا چې په سوئيلي سيمو کښې بلکې په ټوله لره او بره پښتونخوا کښې هم وئيل کېږي، د بنو برخه په کښې په اوړو کښې د مالګې برابر ده. د کتاب املا زَړه ده، په بعضو ځايونو کښې د ليک بڼه ئې د سهي تلفظ او ادائيګي په صورت کښې متاثره شوې ده البته د بنوڅو او بعضې کرلاڼي قبيلو ته ئې په وئيلو کښې مشکل ځکه نۀ پيدا کېږي چې د دې صنفونو د سر ټکو د وئيلو نه ورته ادراک حاصلېږي او زياتره دغه مواد ئې د غوږونو نه تېر شوي دي. زياتره لفظونه په کښې داسې دي چې د مقامي لهجې د اثر لاندې راغلي دي او د (ا، ي، ې، ژ، ش) او داسې نورو حرفونو سره د ليک بڼه لري، د مثال په توګه :

زمونږ او د نورې کرلاڼۍ لهجو مطابق مونږ د ليک دود د ژبې "ا" په "و" او امريه " ئ" په معروفه "ي" او مخصوصه "ې "، "ږ" په " ژ "، " ښ " په "ش" او "ه" په "و" بدلوو : لکه

| مرکزي لهجه | --- | مقامي لهجه |
|---|---|---|
| اسمان | --- | اسمون |
| اوښ | --- | ايش |
| اور | --- | ئېر |
| ږيره | --. | ژيره |
| ده | --- | دو |

موصوف د اولسي ادب د ذکر شوو ټولو صنفونو په اردو کښې لغات ورکړي دي او بيا ئې شاليد او مفهوم هم په ګوته کړی دی. د پښتو د متل ئې په اردو کښې لغات په دې ډول راوړي دي :

"ديړه بيزو وخوړه، ژيره دې چيريکي ککړه کړه.

**لغات** : ديړه. اٹا، بيزو- بندر، اوخوړه. کھا ليا، ژيره.- داڑھی،چيريکی. بکری/ بکرا، ککړه کړه. مل ليا، محاورہ ہے بندر کی بلا.-- طوطے کے سر مفہوم: گناہ ایک کرے الزام دوسرے پر دھرلے"(3).

د اردو اصل ضرب المثل په دې ډول دی. طوطے کی بلا، بندر کی سر

په دې کتاب کښې (۱۱) متلونه داسې دي چې د اردو د مفهوم نه سوا ئې په انګرېزي کښې هم متبادل او مترادف متلونه راوړي دي.

"وينه وينه ته خوندي مينه مينه ته خوندي

مفهوم : انگریزی کہاوت ہے کہ:

“Blood is thicker than water”(4)

بعضې داسې متالونه هم لري چې د پسِ منظر سره ئې اختلاف کېدی شي. متل يوه معني خېزه او مکمله جمله وي- د ليکوال بعضې متالونه داسې هم دي چې د متل نيمګړي حصه ئې راخستې ده او د متل اطلاق ئې وربانديې کړی دی بلکه دا چې متل د کوم محل او موقع له پاره ساز شوی او يا استعمالېږي، د هغې محل او موقعې سره په فکري لحاظ فاصله لري او د اصل موضوع سره د نسبت او د تسلسل کړۍ ترې بې ځايه شوې ده. د مثال په توګه :

" هويدی مړه: لغات.1: ہوید، بنوں شہر سے دور افتادہ گاوں ہے.

مفہوم : ماضی میں رسل ورسائل کی کمی کی وجہ سے شہر جانے کا ارادہ کبھی کبھی ہوتا تھا اور خاص طور پر جب کوئی فوت ہو جاتا: اس کی تجہیز و تکفین کے بندوبست کیلئے شہر جانا پڑتا : اس میں دیر لگتی، لوگوں کو تکلیف ہو جاتی اور مردے کو دیر سے دفن کیا جاتا: اس کہاوت سے ماضی کی داستان سرائی ہے اور احوال ماضی بھی"(5).

خو په بنو کښې دا متل داسې وئيلی شي چې ( څۀ د اوېدې مړه درنه جوړ ده ) يعنې څۀ د هوېدو مړی درنه جوړ دی، سابقه ماهرِ مضمون اکبر جان د دې متل په

اړه د خپل نیکهٔ میر عالم خان د خُلې روایت داسې بیانوي:

" سوراني او هوېد په خپلو کښې د مېرې زامن وو، هوېد دلته اباد شو. ډېر وخت ئې سوراني کښې تېر کړی ؤ، قبرستان ئې تالګۍ ؤ، د پښتنو دا دستور دی چې هغوي خپل قبرستان ته مړي وړي، چې دوي به خپل مړی واخستو نو کرمه (دریائې کرم) به راغلې وه، سخړه به ناسته وه چې کُرمه به کمه شوه نو مړی به ئې پرې پورې کړو او تالګي کښې به ئې خاورو ته وسپارلو. دا ستونزه به په کالونو کالونو روانه وه چې مړی شوی دی او ښخېږي نهٔ. چې چاته دې څه کار حوالې کړی وي او د نن او سبا طمع درکوي نو په دې موقع ورته وئیلی شي چې څهٔ د هوېدو مړی درنه جوړ دی"(6).

زمونږ لیکوال په ډېرو ځایونو کښې ضرب المثل ته د محاورې نه او محاورې ته د ضرب المثل نه وئیلي دي بله دا چې په بعضو ځایونو کښې ئې د متل او محاورې لغوي او حقیقي معنا کړې ده. د مثال په توګه:

* "دنیو د غویو په شکر ویلوړه دو"

" لغات: دنیو– **دنیا**، د غویو– **بیل کی**، په شکر– **سینگ کی جمع سینگوں پر**، ویلوړه دو– **قائم ہے**.

**مفهوم**: *جب سائنسی الات ایجاد نہیں ہوئے تھے اور بیل ہی ذریع زراعت ہوا کرتا تھا. زراعت آبادی اور شادمانی کا باعث ہے اور تھا، زراعت میں بیل کو مرکزی حیثیت حاصل تھی. تو کہا جاتا تھا کہ بیل کی سینگوں پر دنیا قائم ودائم اور استوار ہے. اس کہاوت سے ماضی کی زرعی تاریخ مرتب ہوتی ہے*"(7).

اصل مکمل متل داسې دی چې:

بنوڅی لهجه: " دنیو دې غویهٔ په شکر ویلوړه دو چې یو شکر ئې ستړه شي بیا بل ورته وړَوي "

مرکزي لهجه: دنیا د غوائي په ښکر ولاړه ده چې یو ښکر ئې ستړی شي نو بل ورته واړوي.

دا متل په داسې موقع وئیل کېږي چې کله زلزله وشي. د پخوانیو خلقو دا عقیده وه چې زمکه د غوائي په ښکر ولاړه ده چې د غوائي یو ښکرستړی شي نو بل ورته واړوي ځکه زلزله رادرومي او دا خیال ئې نهٔ ؤ چې دنیا چې د غوائي په ښکر ولاړه ده نو غوائي په څهٔ شي ولاړ دی؟ په دې اړه د هندوانو او د چینیانو

عقيدې هم په توهماتو ولاړې دي. په داسې حال کښې چې متل او محاوره د لفظي او حقيقي معنې په ځای په مجازي او اصطلاحي معنو کښې استعمالېږي۔

" خندق ته خلي دارول" يوه محاوره ده چې د دروغو بهانې لټول او بې مقصده کار کول ئې مجازي او اصطلاحي معنا ده د مثال په توګه انګلسي متل دی چې۔"Blood is thicker than water" لغوي او حقيقي معنا ده چې" وينه د اوبو نه ټينګه وي " خو که مونږ مجازي او اصطلاحي معنا ترې مراد اخلو نو خپل خپل وي او پرادی پرادی وي. په اردو کښې په دې اړه کهاوت دی چې: "**اپنا اپنا ہوتا ہے اور پرایا پرایا**" دا غوندې يو بل متل دی چې: "Money makes the mare go" لفظي او حقق معنا ده "**پیسہ گھوڑی کو جانے دیتا ہے**" او که مونږ ترې نه مجازي او اصطلاحي معنا اخلو نو هغه به"**دام بنائے کام وي**"د روسي ژبې مشهوره معقوله ده "**جب پیسہ بولتا ہے تو سچائی خاموش ہوتی ہے**"متل يو پسِ منظر ته اشاره وي چرته چې داسې موقع پېښېږي نو هلته د متل او محاورې اطلاق کېږي. د حقيقي او د لفظي معنو په ځای په مجازي او اصطلاحي معنو کښې استعمالېږي. لکه د مثال په توګه : که مونږ وايو چې: فلانيه! نور پاڅېږه، کټ درنه سترې دی. نو دلته کټ خو د چا نه نۀ سترې کېږي بلکې د دې نه مراد دا دی چې ډېر خوبونه او آرام پرېږده، ژوند د حرکت نوم دی. تر کومه چې په دې کتاب کښې د مقامي لهجې او د کليوال لغات تعلق دی نو په دې کتاب کښې تر (۴۰) پورې لفظونه داسې دي چې په هغه کښې مقامي اصطلاح کارولې شوې ده او د مقامي/کرلاڼي لغت اطلاق ورباندې کېدی شي. لکه : "ايش په بجاڼه کول (اوبۀ په بډه کول)،د کلي نووئې پکه وي. ( د کلي ناوې بد رنګه وي ) "(8).

او داسې نور... دا ډول لغت د دوه نه د ډېرو ژبو د لغت په دائره کښې راځي چې ورته (Polyglot Dictionary) وئيل کېږي۔ د انسائيکلو پيډيا برټنيکا ،فېروز الغات،درياب او د پښتو د اکېډيمۍ غوندې د يو لفظ تقطيع او د قاعدې او د ګرائمر په لحاظ هر اړخيزه څېړنه نۀ لري خو بيا هم "بنو نامه" په مجموعي لحاظ د پروفېسر شمشېر علي خان يوه د ستائينې وړ هڅه ده او داسې ناياب متلونه ئې هم خوندي کړي دي چې لا تر اوسه د نظر نه پناه وي. د مقامي

صحیح لهجې او املاء سره سر دوباره چاپ ته اړتیا لري چې دا غونډې په راتلونکي کښې د نورې لهجې ویونکي هم ترېنه صحیح استفاده وکړی شي.

(۲) **د سوېلي پښتونخوا علاقائي لغتونه** :

تر عنوان لاندې د ډاکټر احمد علي عاجز (۱۲) صفحې د میرانشاه او د شاوخوا سیمې د مستعملو لغاتو په اړه یوه مقاله ده چې د پښتو اکېډیمۍ پېښور پښتو مجله کښې په کال ۱۹۹۷ کښې چاپ شوې ده. ظاهره خبره ده چې دغه لغات د میرانشاه او د شاوخوا سیمې سره منسوب دي خو ما د خپلې پېژ. اېچ. ډي مقالې په دوېم باب کښې ځکه ځای ورکړی دی چې د وزیرستان لهجې هم کرلاڼۍ لهجې دي او یو شمېر داسې لفظونه هم لري چې هغه د بنو استوګن ئې هم وائي- په دې مقاله کښې د سوېلي لغتونو یواځې تقطیع او د لیک دود په ژبه کښې مترادف لغتونه راوړل شوي دي او نوره د ګرائمر او قاعدې په لحاظ ئې هر اړخیزه څېړنه نۀ ده شوې. زیاتره لفظونه ئې د علاقائي لهجې رنګ لري او په مرکزي لهجه کښې زیاتره استعمال نۀ لري. بعضې داسې لغتونه ئې هم راخستي دي چې د معمولي شانتې د حرفونو د کمي بېشي او زېر و بم په صورت کښې په نورو کرلاڼۍ قبیلو کښې هم وجود لري، نمونه ئې په دې ډول ده:

**د وزیرستان لغات**

**مترادفات**

"کنجړ ،شیرک (ک+ن+ج+ړ) پټکی (پ+ټ+ک+ی) څادر بړاستن

پیڅه (پ+ي+څ+ه) لمن ویږګې (و+ي+ژ+ګ+ې) توکاڼې"(9).

بعضې یوڅو داسې لغتونه ئې هم راوړي دي چې د وزیرستان حلق ئې په هم هغه معنا کښې نۀ استعمالوي چې موصوف ترې مراد اخستی دی. د مثال په توګه:

**د وزیرستان لغات**

**مترادفات**

" ګروئې (ګ+ر+و+ئ+ې+) ګرېوان مۍ (م + ۍ) وریژې، ستهې وریژې

وله (و+له) انګرېزي چنار"(10).

ګروئې ته په انګلسي کښې ( Beauty bone) او په بيالوجي کښې (Clavical)وائي چې د ګرېوان په معنا کښې نۀ استعمالېږي. لکه ګروئې موتېدل. البته اصطلاحاً، " ګروئې ته لاس اچول " په ګروئې کښې سره نيول " ګرېوانۀ ته لاس اچول او په ګرېوانۀ کښې سره د نيولو په معنا کښې استعمالېږي. دا غوندې مې مونګ دال ته وائي او د غټې وريژې، سټې وريژې په معنا کښې نۀ استعمالېږي- البته د وزيرستان په خاوره د " مې ببرې وريژې " خوراک رواج لري. په وريژو کښې مې ګډوي چې يو لذيذه غذا ده. وله هم يوه ونه ده چې د ولې په غاړه کېږي او چينار يا انګرېزي چينار نه بېل شی دی. په مستعمله لهجه کښې ئې هم دغه معنا ده او د " ولې " په اړه مې يوه دا جمله هم د نظر نه تېره شوې ده چې " د ولې په غاړه د ولې ونه ولاړه وه ". په دې ليکنه کښې ټول (۳۶۳) لفظونه راوړي شوي دي، په دې کښې چې په بنو کښې کوم ټکي وئيل کېږي د هغو شمېره (۱۴۵) ده او دا قسم لغت د يوې ژبې د لغت ( Monolingual Dictionary) په دائره کښې راځي.

## (۳) د بنوڅي لهجې لساني جائزه (د معياري لهجې په تناظر کښې):

د ډاکټر يوسف جذاب د اہم فل مقاله ده. په دې مقاله کښې د بنوڅي لهجې قواعد ( مارفولوجي ) او غږ پوهنې ( فونيم ) نظام په استدلال سره وړاندې کړې دی او بيا ئې د ګاونډي مروت والې لهجې او د ليک دود لهجې سره پرتله کړې دی چې د ژبپوهنې د زده کونکو د پاره يوه علمي او ګټوره هڅه ده- موصوف په دې عقيده دی چې لفظونه د يو ځای نه بل ځای ته کوچ کوي، په دې اساس د وخت په اوږدو کښې دا دعویٰ لرل ګرانه شي چې د دې لغت، مصدر، ترکيب يا متل د کومې لهجې سره تعلق لري، البته کله کله په کښې داسې نخښې نښانې موجودې وي چې د هغې په بنياد ئې د يوې مخصوصې سيمې او لهجې سره تعلق قائم کېدی شي، مخکښې زياتوي چې کرلاڼي قبائل د لرې پښتونخوا په يوه منطقه کښې پراتۀ دي نو بل خوا دا يوه لازمي خبره ده چې د دوي لغات وغېره به په يو بل کښې سره ننوتي وي- د نمونې په طور ئې د " لغات " تر نامې لاندې دوه صفحې لغات راوړې دي او (۸۴) د بنوڅي لهجې لفظونه ئې هم کرلاڼي لغات بللي دي او د بېلتون کرښه ئې په راتلونکو څېړنکارانو پرې ايښې ده، نمونه ئې په دې ډول ده.

| بنوښوال ټکي | معنې | بنوښوال ټکي | معنې |
| --- | --- | --- | --- |
| "اوتېونې | تازه | پان | سړک |
| خت | قميص | اولنګ/نسروه | انار |
| کوتپېز | ښاپېرک | رستنیو کېدل | نږدې کېدل |
| مخشلائی | ګپ شپ | مکنډای | معزی"(11). |

د موصوف راؤړي دوه اخري لفظونه ( مخشیلائی، مکنډی ) د بنوڅۍ لهجې د صوتي بڼې اصول نفي کوي. د مستشرق جې جي لوریمر تقلید ئې اختیار کړی دی او د ایٔ /اَي په ځای ئې ( اې /A ) لیکلې ده او په وړومبي لفظ کښې ئې د (همزه)اضافه هم کړې ده او (مخشیلائی) لیکلی دی که چرته مونږ دا لفظونه په دوه برخو تقسیم کړو نو هغه غږ ترې نۀ راوځي کوم چې وزیر، بنوڅي یا داسې نور کرلاڼي قبیلې ئې په خبرو کښې ادا کوي. د مثال په توګه : مخشیل---- ائی، د دې توري اخري برخه (ائی) په اردو کښې هم دغه آواز نۀ پرېږدي کوم چې زمونږ څېړنکار ترې نه اخذ کړی دی (اے ہائے، تم اۓ ہو نہ شبِ انتظار گزری ہے، وہ آئے ہمارے گھر میں خدا کی قدرت ہے.). مکنډ---- ای. په دې او داسې نوره هم قافیه لفظونو کښې د لفظ د ختمېدونکي جوړښت اخري دوه خرفونه د(A) آواز پرېږدي او پکار د I ) (آواز دی نو درسته بڼه ئې په دې ډول راځي مخشیلایٔ/ مخشیلاَي , مکنډایٔ /مکنډاَي او زما دغه مؤقف اردو او فارسي ژبې ته هم ډېر نږدې دی (بلاک آئی میں گھر برائے فروخت، ائی ہائی، ھائی دو چیشم، مہنگائی، کمائی، لائی ہوائی) او داسې نور-.. دا ډول لغت د پښتو نه پښتو ته د یوې ژبې د لغت ( Monolingual Dictionary) په دائره کښې راځي او د یو قاموس غوندې د ګرائمر په لحاظ تفصیلي بڼه نۀ لري.

(۴) دې لولي لولینه:

د ډاکټر یوسف جذاب د نور ولي جان ثاقب په " څراغ " لیکلې مقاله کښې د ژبپوهنې د څو مهمو برخو، ډېر لنډ مګر ډېر جامع بحث کړی دی. اوله برخه ئې د غږ پوهنې برخه ده، د اروابښاد د شاعرۍ نه ئې بعضې هغه توري رابېل کړي دي چې د ش، ي، و، ن او ع حرفوي حالت په بدلېدو سره په نورو سیمو کښې هم

شتون لري، لکه ژغ چې پېښوريان ئې غګ ادا کوي، دا غونډې مئېر چې په مروت واله کښې نمر او پېښور کښې نور دی.

"پـه روح مې تـړمې پلـوشې واچـوه

د ژمي مئېر شه په زړۀ کېږې مې ډېر"(12).

دوېمه ئې د قواعدو (مارفولوجي) برخه ځيرلې ده چې د کرلاڼ او سړبن د ګروپونو ترمنځه حرفوي او صوتي بدلونونه راښائي، د مثال په توګه :

"دې موژ/اې موژ (مروت ګروپ)

دې موژ/ اې مېژ

(کرلاڼ ګروپ)

زموږ/ زمونږ (معياري پښتو) "(13).

درېمه ئې د لغاتو برخه راوړې ده چې يوائې اشاره ورته شوې ده، د ثاقب د شاعرۍ نه ئې هغه شعرونه راخستي چې د بنوڅۍ لهجې کليوال لغت او ځانګړې تورې په کښې په شاعرانه هنر سره ځای کړي شوي دي خو مترادفه معنیٰ ئې ورسره نۀ ده راوړې، لکه تربت، شمر، دليه کېدل، بسيا، ورچنه، شمڅې، لوستل او سله بله

"په خوب راځي خو په شمر نۀ راځي

زما خوبونه زما ذات ئې اوخوري"(14).

دا ډول ليکنه د لغت په دائره کښې خو نۀ راځي ولې چې د لفظونو مترادفې معنې ورسره نۀ دي راوړې شوې. البته د ګوتو په شمېر يو څو مقامي او علاقائي لغات ئې ضرور محفوظ کړي دي او د لغت په لړ کښې د ژبپوهنې د څو مهموڅانګود ذدکړې په لړ کښې د ذده کوونکو لاړ ښودنه ضرور کولی شي-

(۵) د بشر پوهنې په رڼا کښې د بنو د اولسي سندرو جائزه:

دا د رقم الحروف انعام الله انعام د ايم فل مقاله ده- وړومبی باب ئې د بشر پوهنې (Anthropology) په ابتدا، روايت او ارتقاء او دوېم باب ئې په نړيواله کچه د فولکلوري سندرو په ابتدا، ارتقاء او تاريخ باندې دی. درېم باب کښې د بنوڅو او د وزيرو په مقامي لهجه کښې د ژوند په بېلابېلو دورونو کښې د کلتور آئينه دارې اولسي سندرې څېړلې شوې دي او د هغې پسِ منظر ښودلی شوی

دی. په دې سندرو کښې د کليوال لغت يوه لويه ذخيره پرته ده، د ناوې د راوړلو په موقع وئيلې شوې د يوې سندرې نمونه په دې ډول ده:

" بنوڅی لهجه :

سپينې ختې وکوژه دې سرې ختې دې وور ده

وُس درته ويلوړ ده

مرکزي لهجه: سپينې جامې اوباسه د سرو جامو دې وار دی

اس درته ولاړ دی "(15).

د دې مقالې څلورم باب په ټپه باندې دی- په دې باب کښې که يو طرف ته د بنوڅو اؤ د وزيرو کلتور خوندي دی نو بل طرفه ته ئې د مقامي لهجې داسې نايابه توري او لفظونه هم رابخښلي دي چې د لغت په ونډه کښې يوه د قدر وړ اضافه ده- نمونه ئې په دې ډول ده :

" وزيری لهجه: سترګې مې بيا تورول غووړي

لکه وچيبئې غنم غوړي بارومينه

کتابي لهجه: سترګې مې بيا تورول غواړي

لکه د للمې غنم غواړي بارانونه"(16).

د نورو لغتونو غوندې دغه لغت هم د يوې ژبې د لغت په دائره کښې راځي، د بنو د کليوالو نايابو او متروک کېدو ته د نږدې تورو د ليک دود په ژبه کښې مترادفې معنې راوړې شوې دي- نوره تقطيع او د قاعدې په لحاظ د يو قاموس غوندې هر اړخيزه خبره نۀ لري او د پښتو نه پښتو ته د يوې ژبې د لغت ( Monolingual Dictionary ) په دائره کښې راځي.

(۶) د بنو د دوه کلو (د منداڼ او د هوېدو) د لهجو تقابلي جائزه:

دا هم د رقم الحروف انعام الله انعام د سېشن ۱۶،۲۰۱۵ د ايم فل ټرم پېپر دی، ټولې ۳۵ پاڼې لري، په ابتدا کښې د بنو په تاريخ، وجه تسميه، شجره، د منداڼ او د هوېد په محل وقوع، حدود اربعه، ابادي، تعليم او په صحت باندې خبرې اترې شوې دي او بيا د منداڼ او د هوېدو د کروندګرو سره د سوال ځواب په صورت کښې انټرويو شوې دي او هغه حرف به حرف په دواړو مقامي لهجو کښې ليکل شوې دي. په دې انټرويو کښې د مشرانو د خولې نه راوتی د کليوالو تورو لغت وړاندې کړی شوی دی چې نمونه ئې څۀ په دې ډول ده:

| | | |
|---|---|---|
| " مندانړ لهجه | هوېد لهجه | مرکزي لهجه |
| خُوئي/ خووئي | پنسره/خوئي | راشپېل |

وضاحت : دا د کروندې د یوې الې نوم دی چې د بېلچې هومره به وه او د لرګي نه به جوړه وه- کله چې د رسم نه پس به غنمو کښې لږ شان بوس پاتې شو نو د غنمو صفا کولو د پاره به کروندګرو په راشپېل غنم په هوا کښې پورته کول نو هوا به بوس تربنه وړلو او غنم به پرېوتل، دې الې ته په مندانړ واله لهجه کښې خُوئي / خُووئي او هوېدو واله لهجه کښې پنسره / خُوئي وئيلی شي. د ليک دود په ژبه کښې ورته مترادف توری " راشپېل " کارول کېږي"(17).

په دې ټرم پېپر کښې ټول (۲۶) ځانګړي کليوال توري سره د عام لغت تفصيل اؤ ت وړاندې کړې شوي دي او ورسره د يو څو محاورو شاليد هم ليکلی شوی دی- دا ډول لغت هم د پښتو نه پښتو ته د يوې ژبې د لغت ( Monolingual Dictionary) په دائره کښې راځي او د قاعدې په لحاظ د فرهنګ يا قاموس غوندې هر اړخيزه بڼه نۀ لري.

(۷)د سوېلي پښتونخوا لغات:

د بختيار وزير ليکلې قلمي نسخه ده دا د لغت په اړه، د دې نسخې په ابتداء کښې ئې بعضې داسې بې توريه صوتونه راوړي دي چې يواځې صوتي بڼه لري او زياتره په ليکلو کښې نۀ دي راغلي، د نمونې په توګه:

| "د پښتو ژبې توري | په پښتو کښې معنا | په اردو کښې معنا |
|---|---|---|
| ء هنّ | هو، سمه ده، همدغسې ده | ہاں، ٹھیک ہے، بالکل اسی طرح ہے۔ |
| ءَ هۀ | مۀ کوه، داسې ونۀ کړې، د نۀ په معنا کښې پکارېږي | نہ کرو، ایسانہ کرو، نہیں کے معنی میں استعمال ہوتا ہے"(18). |

موصوف د لغت په دې ابتدايي برخه کښې (۳۴) توري د پښتو د ليک دود په ژبه او په اردو کښې معنا راوړې ده او دې نه پس ئې صرف د پښتو په مستعمله ژبه کښې معنا او وضاحت ورکړی دی، د الفبا ترتيب نۀ لري، کار او

زیار ئې تر ټولو منظم او ښائسته دی، بعضې داسې ټکي ئې هم راوړي دي چې وربانديې د وزیرۍ لهجې اطلاق کوي د مثال په توګه:

| "د پښتو ژبې توري | په پښتو کښې معنا | په اردو کښې معنا |
|---|---|---|
| یو وزرئ | بې کسه، یو کمزوری، موتاځ، بې وسه | اکیلا، کمزور، بے کس"(19). |

خو دغه یو وزرئ لفظ په مستعمله ژبه کښې هم شتون لري، قلندر مومند په ګجرې افسانه کښې د شېردل د خلې د بې وسۍ فریاد داسې بیانوي:

" که یو وزری نۀ وی نو دا ویره خو به مې نۀ کېدله چې که زۀ نۀ یم نو خان به مې بال بچ له کوټو نه وباسي"(20).

په یو وزری لفظ کښې مجهوله ے په وزرۍ لهجه کښې په امریه ئ بدله شوې ده چې د یو لفظ د علاقایي لهجې د اثر لاندې معمولي فرق په ګوته کوي. هم دا رنګې په ۱۱ نمبر مخ باندې ئې "خصمانه" توری راوړی دی چې اصل ئې د عربۍ نه دی او معنا ئې داسې کړې ده:

| د پښتو ژبې توري | په پښتو کښې معنا | اردو معنا |
|---|---|---|
| " خصمانه | د فصل یا د باغ پالنه | فصل یا باغ کا پالنا |
| نژا | باربار، سراسر، ټول، هروخت، مکمل، سے سره پسې، پرلپسې | بار بار، سراسر هر قت، لگتار |
| کُوَت / وزیروالہ لهجه | ترَغ یو تَخرّک، یا په غرۀ کښې یا په غونډه کښې یا په بل ځای کښې داسې کندۀ لکه ترغ نو دغې ته کُوَت وائي، کله کله چې یو دریاب یا د اوبو الګډه په غرۀ یا په څۀ غونډې داسې ځای وکندي، لکه ترغ نو هغه ته هم کُوَت وائي، دا کوت کله لږ ژور | |

| | |
|---|---|
| | وي او کله ډېر ژور وي. |
| سېبت (کرلاټي) | سم، تیار، چمتو، مکمل، تابیا کړی شوی، راغونډ کړی شوی. |
| پَتانزی وزیرواله/ کرلاټي لهجه | "د پښتنو جامې ارتې وي، د پرتوګ د برې نه لاندې چې د ارتوالي د پاره کوم زیاتی رخت زوړند وي او دا رخت په برا یا پرتوګ غاښ کښې سرې یو خوا بل خوا وړی شي دغه ته پتانزی وائي"(21). |

*" خصمانه " په عربۍ او اردو ژبه د لفظ معنا مخالفت او دښمني شوې ده.

*نژه د یو شي مقدار Quantity په ګوته کوي مثلاً نژه اوبهٔ دي یعني په شودو کښې ملاوټ زیات دی، د اوبهٔ مقدار پکښې زیات دی، یا نژه غوښه په څې دو؟ یعني بغېر د هډوکي نه غوښه په څومره ده؟ خالصه غوښه مراد دی.

*کُوَت د وزیرۍ لهجې توری ګڼي، په داسې حال کښې چې دا توری د زبر او پېش د زېر و بم په بدلون سره په بنوڅواله او داوړواله لهجه کښې هم شتون لري.

*"کُوت " د کرلاټۍ لهجې توری دی، کوته د کنج په معنا کښې هم راځي، بنوڅي او داوړ ئې "کُوت/کُوتَه " بولي. د داوړوالې اصطلاح ترمخه کوت دې ته وائي چې څوک څادر په ملا پورې وتړي او د یوې او بلې اوږې نه ئې تاؤ کړي او بیا وابنهٔ پکښې اچوي، یعني د رېبل شوي وابنهٔ د پاره د یوې کځوړې حثییت لري.

*سېبت اصلاً د ثبّت یا ثبت وران شوی شکل دی چې مونږ ئې کرلاټي نهٔ بلکې د عربۍ نه دی

".ثَبّت عام : فع،ثابت و واضح کرنا، جمانا، پختہ کرنا، درج کرنا، محقق و موکد کرنا، دلایل سے قبل ثابت کرنا، کسی کے خلاف جرم ثابت کرنا، دل مضبوط کرنا، بہادر بنانا، ثابت قدم رکھنا"(22).

*" پتانزی" ټکی په اصل کښې مؤنث دی او د مجهولې یې په ځای په مخصوصه "ې" یې لیکل پکار دي، دا غونډې ارتې توري کښې هم په مخصوصه

"ې" يې راځي، زوړند به "ز" سره نۀ بلکې په "ځ" سره ليکلی شي، پَتانړې ته په بنوڅۍ لهجه کښې تووې وائي، لاندينۍ ټپه کښې تووې توری هم په دغه معنا کښې راځي:

" په مو نه چيګه چيګه مه سه

دې پړتوګۀ تووې دې مو سکڼلئې دينه"(23).

د لغت په دې مسوده کښې ۱۶ بې توريه لفظونه دي، پينځلس لفظونه داسې دي چې ورسره اصل مونډ نۀ دی ليکل شوی. د مروتو او بيټنو لهجو ۲۹ لفظونه، وزيري ۵۸، بنوڅي ۱۶، لودي ۳۳، ختټک ۵، اپريدي ۱، معسود ۲، ځدراڼ او پيرکوتي ۱ او د ټولو نه زيات د کرلاڼۍ لهجې ۳۳۴ هغه توري ئې راغونډ کړي دي چې زياتره په نورو لغاتونو کښې د ليک بڼه نۀ لري. په دې کښې داسې توري هم شته چې لغت نويس ورباندې د يوې ژبې اطلاق کړی دی خو هغه په نورو سيمو لهجو کښې هم وئيل کيږي. په شروع کښې راوړل شوي ۳۴ لفظونه ئې د پښتو نه اردو ته د دوو ژبو لغت او نوره راوړل شوي تر دريوسوو پورې لفظونه د مقامي قبيلوي لهجو نه د ليک دود په ژبه کښې يعنې د يوې ژبې لغت (Monolingual Dectionary)په دائره کښې راځي- د زياتره لفظونو ئې مونډ ښودلی دی چې د کومې قبيلې يعنې کرلاڼۍ که د سربڼي ګروپ سره اړيکې لري- د ټولو ئې ساده معنا راوړې ده او د ضرورت په وخت ئې د ځينو لفظونو د لابڼۀ وضاحت لۀ پاره تفصيل هم راوړی دی. البته د لفظونو تقطيع او د ګرائمر په لحاظ هر اړخيزه څېړنه نۀ لري، بعضې داسې توري هم لري چې د معنې سره ئې اختلاف کېدی شي خو زياتره مواد ئې کره او هغه خالص توري دي چې ورځينۍ ژوند کښې استعمالېږي خو ليکلې بڼه به ډېره کمه لري. د املاء په لحاظ تصحيح ته هم اړتيا لري.

(۸)کرلاڼ اللغات: دا د لغت په اړه د اصلاحي ادبي ټولنې بنو د غړو مسّوده ده چې په کښې زياتره د بنوڅوالې لهجې زاړۀ او متروک کېدو ته نزدې او هغه ټکي راؤړي شوي دي چې د بنو د علاقائي لهجې سره تعلق لري. د دې ټکو په راغونډه باقاعده اغاز د ستمبر د مياشتې په ۳ نېټه کال ۲۰۱۴ع نه شوې ده. د الفباء په ترتيب سره ئې څېړنه په دې ډول ده.

د "ا" نه شروع شوي ټول ۴۲ توري راوړي شوي دي چې په دې کښې يوازې د

دولسو لفظونو ساده معنی' لیکلې شوې ده. د مثال په توګه :

| توری | معنا |
|---|---|
| " ارژنې | څخا ختې |
| اقرب | شوم، بخیل"(24). |

"اقرب " نومي توری د اصل لفظ او معنې په لحاظ تصحیح ته اړتیا لري. دا د فارسي ژبې توری دی چې پا "الف" سره نۀ بلکې په "ع" سره عقرب لیکلی شي اؤ لړم ته وائي. د دې یو بل مترادف لفظ " کژدهوم" دی. د عقرب میاشت ته په پښتو کښې د لړم میاشت هم وائي چې اصطلاحاً د ضرر رسان سړي د پاره هم استعمالیږي.

د دې مسّودې په الفبائي ترتیب سره د "ب" تر سر خط لاندې(۴۱) توري راؤړي شوي دي چې پکښې یوازې د(۵) ټکو معنی' راؤړې شوې ده. د "پ" تر سر خط لاندې ئې (۵۰) لفظونه لیکلي دي- په دې کښې د (۵) ټکو معنی' لیکل شوې ده. بعضې داسې ټکي هم لري چې په نورو سیمو کښې هم مستعمل دي او د بنوڅۍ لهجې د "ي"، "و" او " ه" په بدلون سره یعني د مقامي ژبې د ماتېدو په صورت کښې راؤړي شوي دي.

" پړدیګوش، پرشمایي، پېرووړه او زار وش"(25).

چې د لیک دود په ژبه کښې پردوګاښ، پښماني لیکل کېږي. د مستعملې لهجې مطابق په "زار وش " لفظ کښې "ه" په "و" او " ښ" په "ش" بدل شوی دی یعني زهر او وښ. د "ت" حرف نه شروع شوي حرفونه (۳۰ ) دي. په دې کښې د ځلورو ټکو معنی' ورکړې شوې ده. د "ټ" حرف تر ترتیب لاندې (۱۹) توري درج کړي شوي دي. په دې کښې یوازې د ( ۶) لفظونو معنی' راوړې شوې ده. د " ث" نه چې کوم لفظونه شروع کېږي د هغو شمېره ( ۴) ده. د "ځ" نه د شروع شوو لفظونو شمېر ( ۱۴) دی چې پکښې یوازې د (۴ ) لفظونو معنی' درج شوې ده. د "چ" حرف نه شروع شوي لفظونه (۲۴ ) دي چې پکښې د مرکزي لهجې مطابق د ( ۹ ) تورو معنی' راوړې شوې ده. د "ح" تر سرخط لاندې ټول ( ۲۰ ) لفظونه راؤړل شوي دي چې پکښې د ( ۴ ) لفظونو معنی' ورکړې شوې ده. د "س"

تر سرخط لاندې د راغونډ کړیو شوو لفظونو تعداد ۳۲ دی چې یوازې د څلورو ټکو ئې د مستعملې املا مطابق معنا راؤړې ده او داسې نور... په دې تورو کښې ئې د یو ټکي "سک" معنی' "بیماري" کړې ده. سک یوه بیماري ده چې د لیک دود په ژبه کښې ورته برېښن وئیل کېږي. د لغت په دې قلمي نسخه کښې د الفباء په ترتیب سره ټول (۴۸۶) لفظونه راؤړي شوي دي. په دې لفظونو کښې صرف د ۱۱۷ لفظونو ساده لغوي معنې د لیک دود په ژبه کښې راؤړې شوې دي. د انسائیکلو پېډیا برټنیکا، اوکسفورډ، فېروزاللغات، دریاب او د پښتو د اکېډیمۍ د لغت غوندې د یو لفظ تقطیع، استعمال او د ګرائمر او د قاعدې په لحاظ هر اړخیزه څېړنه نۀ لري. دا ډول لغت د یوې ژبې لغت" ( Monolngual Dectionary) په دائره کښې راځي.

(۹)فرهنګ :سکندر خان سکندر د خپلې شاعري مجموعې " اظهار" په پائ کښې د خپلې شاعرۍ نه د بنو کلیوال او سیمه ائز توري رابیل کړي او د هغو ئې ساده معنا راوړې ده. د دې تورو تعداد (۶۷) دی او په ۲۰ جون ۲۰۲۰ء د منګل کور پېښور نه چاپ شوی دی. دغه د (۶) صفحو لغات ئې د الفبا په ترتیب سره لیکلي دي. په دې کښې (۱۲) ټکي داسې هم شته چې هغه په مرکزي لهجه کښې هم شتون لري لکه: خوړلن، ولور، ستر"(26). او داسې نور. د بنو د بعضې تورو لغات ئې په دې ډول راؤړی دی.

| لفظونه | معنې | لفظونه | معنې |
|---|---|---|---|
| " ځوَړ | أترايي، مخ په ښکته، لېول | خلېط | نقصان، غلطي، عېب |
| بیړندی | جلد باز، بې صبره | پېرچم | ناخوال، پېغوریز، حرکتونه |
| وایه | خوف، وسواس، شرم | ژ نده | د مخ جوړونه،د غاښونو د پاسه حصه "(27). |

دا ډول لغت پښتو نه پښتو ته د یوې ژبې لغت ( Monolngual Dectionary ) په دائره کښې راځي. فرهنګ د لغت په نسبت زیات وسعت لري. فرهنګ د یوۀ فن او هنر لفظونه او مفردات راؤړي.

**۱۰) ګړدودي عاطر**: دا د ولي آیاز عاطر په شعري مجموعه" جانان"باندې

د منیب راحل لیکلې دولس مخه تبصره ده چې په کښې دوه صفحې د موصوف د شاعرۍ نه په راؤړل شویو لغاتو اډانه لري. د تبصرې په شروع کښې ئې په لهجه،روزمره او محاوره خبرې کړې دي . د لهجې،روزمرې او محاورې توضیع ئې د نورو ژبپوهانو په اقتباساتو کړې دی او بیا د عاطر په شاعرۍ کښې ئې د دې لټون کړې دی او د مفهوم ښکلا ئې هم ترېنه رابرڅېره کړې ده. د موصوف د شاعرۍ نه ئې کلیوال توري رابېل کړي او د هغوئ ساده معنی' ئې کړې ده. نوره تقطیع او د ګرائمر په لحاظ استعمال او څېړنه نۀ لري. دا رنګه کار د یوې ژبې د لغت په زمره کښې راځي. نمونه ئې په دې ډول ده:

| | |
|---|---|
| " لغت | معنې |
| چبه | تکلیف |
| غور | په زور سره آواز |
| وخته | مخکښې |
| لشکي | لړ،لژ |
| پېوه | زخم مندمل کېدل"(28). |

## حوالې


(1) شمشېر علي خان، پروفېسر (ر)، بنو نامه متلونه او مثالونه، اول چاپ، تهي زېډ ګرافیکس، پېښور، ۲۰۰۸، مخ: ۶

(2) هم دغه اثار، مخ: ۷

(3) هم دغه اثار، مخ: ۲۴

(4) هم دغه اثار، مخ: ۱۰۳

(5) هم دغه اثار، مخونه: ۴۵، ۴۴

(6) مرکه، د اکبر جان سره، د موبائل په واسطه، عمر دوه شپېتۀ کاله، پلار نوم فرید زمان، کلی خان صوبه لانډې ډاک، هوېد بنو، ۵ مارچ ۲۰۲۴، مازیګر ۵ بجې

(7) شمشېر علي خان، پروفېسر (ر)، بنو نامه متلونه او مثالونه، مخونه: ۷۳، ۱۱

(8) هم دغه اثار، مخونه: ۷۳، ۱۱

(9) ډاکټر، عاجز، احمد علي، د سوېلي پښتونخوا علاقائي لغتونه(مقاله)، مشموله، پښتو، مجله، پښتو اکېډیمي پېښور، ۱۹۹۷ء، مخونه: ۸۱، ۸۰

(10) هم دغه اثار، مخونه ۷۸، ۷۷

(11) يوسف جذاب، ډاکټر، د بنوڅې لهجې لساني جائزه، د ايم فل مقاله ناچاپ، علامه اقبال اوپن يونيورسټي اسلام اباد ، ۲۰۰۸، مخونه: ، ۱۳۲، ۱۳۱

(12) دې لولي لولينه، ډاکټر يوسف جذاب، مشموله، څراغ (شاعري) ثاقب، نور ولي جان، اعراف پرنټر محله جنګي پېښور، اول چاپ، جنوري ۲۰۱۹، مخونه: ۳۱، ۳۰

(13) هم دغه مخونه: ۳۱

(14) هم دغه مخونه: ۳۶، ۳۵

(15) انعام، انعام الله، د بشر پوهنې په رڼا کښې د بنو د اولسي سندرو جائزه، ايم فل مقاله، ۱۶- ۲۰۱۵، ناچاپ،پښتونخوا مطالعاتي مرکز، مرکز باچاخان پوهنتون چارسده، مخ: ۵، ۶

(16) هم دغه اثار، مخ : ۲۹۸

(17) انعام، انعام الله، د بنو د دوه کلو (منداڼ او هويد) د لهجو تقابلي جائزه، ايم فل ټرم پيپر، ناچاپ، پښتونخوا مطالعاتي مرکز، باچاخان پوهنتون چارسده، سپشن ۱۶، ۲۰۱۵، مخ: ۲۸

(**18**) بختيار وزير، د سوېلي پښتونخوا لغات (مسوده)، د پلار نوم، علي محمد خان، بيزن خېل وزير بنو، شناختي کارډ نمبر ۹، ۱۴۴۰۳۳۶، ۱۱۱۰۱، مخونه: ۱، ۲

(19) هم دغه اثار، مخ: ۶

(20) قلندر مومند، ګجرې (افسانه)، مشموله، پښتو ( د يولسم ټولګي کتاب )، خيبر پښتونخوا ټيسټ بک بورډ پېښور، تعلمي کال ۲۰، ۲۰۱۹، مخ: ۵۸

(21) بختيار وزير، د سوېلي پښتونخوا لغات (مسوده)، مخ ۱۶، ۱۲

(22 http ://almaany-com, visiting 22 march 2024, 9 :15 am)

(23) انعام، انعام الله، د بشر پوهنې په رڼا کښې د بنو د اولسي سندرو جائزه، ايم فل مقاله، ناچاپ، پښتونخوا مطالعاتي مرکز، باچاخان پوهنتون چارسده، سپشن ۱۶، ۲۰۱۵، مخ، ۳۵۱

(24) اصلاحي ادبي ټولنه بنو، "کرلاڼ اللغات "، ۳ ستمبر ۲۰۱۴ء، مخ: ۷

(25) هم دغه اثار، مخونه: ۲۷، ۱۲

(26) سکندر، سکندر خان، اظهار (شعري مجموعه )، سپوږمۍ ادبي تنقيدي ټولنه بنو، اول ځل، ۲۰ جون ۲۰۲۰ء، مخونه: ، ۲۲۶ تا ۲۲۸

(27) هم دغه اثار، مخونه: ، ۲۲۴ تا ۲۲۹

(28) ګړدودي عاطر، منيب راخل،تبصره،مشموله" جانان" شعري مجموعه، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، اول چاپ،جنوري ۲۰۲۰ء مخ: ۴۱